يو سړی رسول الله ﷺ ته راغی او ويې ويل: «السلام عليكم»، رسول ﷺ ځواب ورکړ او بيا کښناست، نو رسول ﷺ وفرمايل: «لس»

د عمران بن حصين رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وويل: يو سړی رسول الله ﷺ ته راغی او ويې ويل: «السلام عليكم»، رسول ﷺ ځواب ورکړ او بيا کښناست، نو رسول ﷺ وفرمايل: «لس» بيا بل سړی راغی او ويې ويل: «السلام عليكم ورحمة الله»، رسول ﷺ يې ځواب ورکړ او بيا کښناست، رسول ﷺ وويل: «شل» بيا بل سړی راغی او ويې ويل: «السلام عليكم ورحمة الله وبركاته»، رسول ﷺ يې ځواب ورکړ او بيا کښناست، رسول ﷺ وفرمايل: «ديرش».

[حسن] [ابوداود، الترمذي، احمد او الدارمي روايت کړی دی]

يو سړی رسول الله ﷺ ته راغی او ويې ويل: «السلام عليكم»، رسول ﷺ ځواب ورکړ او بيا کښناست او ويې فرمايل: چې لس نيکۍ ورته وليکل شوې، بيا بل سړی راغی او ويې ويل: «السلام عليكم ورحمة الله»، رسول ﷺ يې ځواب ورکړ او کښناست او ويې فرمايل: چې شل نيکۍ ورته وليکل شوې، بيا بل سړی راغی او ويې ويل: «السلام عليكم ورحمة الله وبركاته»، رسول ﷺ يې ځواب ورکړ او کښناست او ويې ويل: چې دېرش نيکۍ ورته وليکل شوې؛ يعنې په هر لفظ سره لس نيکۍ.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3587